پوهنمل حاجی محمد نوزادی

## د کوه نور الماس له کومه راغي او چیرته ولاړ ؟
## ( دوهمه برخه )

د کوه نور الماس :

د ا لماسو داغمی چی دنړی دتر ټولو سترو ټوټو دسر په ډله راځی چی اوسنی وزن یی 108,93 قراطه (نژدی 22,8 گرامه ) دي او سپین رنگ لری . دپیدا کولو نیټه او دمونډونکی نوم ئی تر اوسه معلوم ندی , خوداخبره څرگنده ده چی حیدر اباد ته نژدی دهندوستان داندراپردیش ایالت په گلکنده نومی سیمي کی تر لاسه سوی دی . داځکه چی تر ۱۷۳۰ زیږد کال دمخه چی په برازیل کی دالماسویو معدن وموندل شو , د گلکندی دمعدن نه پرته په ټولی نړی کی بل دالماسو معدن نه وو . له همدی کبله د کوه نور دزیږدنې ځای بیله تردید نه گلکنده گڼل کیږی . ددی خبری سره سره داسی هم ویل شوی دی چی دا الماس د میلاد نه ۳۲۰۰ کاله وړاندی دیوه رود د بستر نه پلاس راغلی دی .



په لیکلي توگه دغمي په اړه معلومات یوازی د ۱۳۰۰ زیږد کال را پدی خوا تر سترگو کیږی , خو دافسانو او حکایتونو له مخي غمی لدی نه ډیر وړاندی دانسانانولاس ته ورغلي او کارول شوی دی . په کیسو کی راغلي چی کوه نور نژدی ۵۰۰۰ کاله دمخه دجنوبی هندوستان په گلکنده کی چی دالماسو له مخی په نړی کی وتلي نوم لری , ځایي اوسیدونکو پلاس راوړی دی . د کوه نور لومړی څښتن د ( کرنا ) پنامه دهند یو افسانوی قهرمان یادشوی دی .

مغولی سلطان بابر په خپل کتاب ( بابر نامه ) کی د کوه نور په هکله چی هغه وخت لا پدغه نامه نه یادیده او یوازی د بابر الماس یی باله , لیکلي دی چی دا الماس د مالوا په یوه راجا پوری اړه درلوده او وروسته د سلطان علاوالدین خلجی (غلجی) پلاس ورغي . بابر دنومړی غمی قیمت دومره لوړ ارزولي او وایی چی ددی غمي په پیسو سره کیدلای شی د ټولي نړی خلگوته پوره دوی ورځی په مړه گیډه خواړه ورکړل شی .

د بابر داخبره هم رښتینی ده چی کوه نور د مالوا دراجاگانو لونگۍ دخو پیړیو په اوږدو کی ور ښکلي کړی وه . هغه وخت د مالوا خلگو باور درلود چی که هر وخت داغمی د راجا له لونگۍ نه ولوید , نو دمالوا اولس بخت به نسکوره او ټول به غلامان شي چی اخیر همداسی شوه . کله چی په ۱۳۰٤ زیږد کال سلطان

علاوالدن مالوا فتح کړه , د نورو قیمتي خزانو په ډله کی دکوه نور الماس هم ده پلاس راوړ . خو څه موده وروسته کوه نور بیرته د ( بیکرامیت ) پنامه دمالوا دیوه راجا پلاس ورغي .

د کوه نور تاریخ په حقیقت کی د یوه هیواد دتاریخ پشان ځودوری او پراوونه تیرکړی او دمختلفو واکدارانو تر منځ لاس پلاس شوی دی :

### کوه نور په مغولي پړاو کی :

په ۱۵۲٦ زیږد کال هندوستان ته دمغولي گوډ تیموردکورنی پاتی شوو څخه دسلطان بابر لښکری ننوتلي . دده ځوی همایون چي وروسته یی په هند کی دمغولي واکمني بنسټ کښیښود , هم پدی ډله کی دپلار دیوه وتلي افسر په توگه ورسره وو . په همدی کال د پانی پت په خونړی جگړه کی دلودیانو هندي لښکرو دمغولو لخواماته وخوړل او راجا بیکرامیت ووژل شو . دده کورنی کله چی د اگری ښار نه دتښتي په حال کی وه , ونیول شوه . د راجا میرمنی پدی هیله چی دخپلي کورنی پاته غړی له مرگه وژغوری , د کوه نور الماس یی دخپلو قیمتی خزانو سره همایون ته ډالی کړ او ده هم هغوی واړه وبخښل .

تر پوره برۍ وروسته همایون دیوه پرتمین محفل په ترڅ کی کوه نور پلار ته وړاندی کړ . هغه دا غمی په ځیر وکوت , پرلـه وا ئی ړاوه او بیرته یی همایون ته ورکړ . د دی راوروسته دمغولي کورنی شاهانوتر هغه وخته چی دطاوس پیژندل شوی تخت جوړ شوی نه وو , کوه نور په خپل تاج کی ګرځاوه . خلګو عقیده درلوده چی څو پوری کوه نور په تاج کی ځلیږی , دمغولي کورنی واکمني به ټینګه او دوام به مومی . ددی کورنی واکمني رښتیا هم ډیر ژر پر ټول هند خپره شوه او دبابر لمسي جلال الدین اکبر هلته یو واحد او یو موټی هیواد جوړ کړ . دی یو د زده کړو خاوند نرم سړی وو ، ټولو مذهبونو اوادیانو ته یی په درنـه ســترګه کتـل او هرچیـری یـی دعلـم او پـوهی مـشالونه روښـانه کـول . د شاه جهان دسلطنت پر مهال مغولي دولت خورا زیات وغوړیدی او دده په همت دنړی داسی شهکارونه منځته راغلل لکه په اګره کی زړه راکښونکی تاج محل , ښکلي تاریخي مسجدونه او نور . خو دطاوس تخت ( Peacock Throne ) ددی کـورنی تـر ټولـو سـتره شـتمني ګڼـل کیـده .

**دطاوس تخت:**

جان باتیست تاویرني چی دهغه وخت دالماسو یو پوخ او وتلي سوداګر وو , په هند او ډیرو ختیځو هیوادونو کی ګرځیدلي دی . دی په خپلو یادښتونو کی دطاوس تخت په اړه لیکي چی داتخت د ۷ نورو تختونو سره یوځای په یوه ځانګړې سالون کی ایښودل شوی وو او ترنورو پدی خاطر هم اوچت ښکاریده چی په قیمتي کانو سینګار د مرمرو پرپیوه ښکلي پلنه او لوړه کټله باندی پروت وو . تخت شپږ پندی او غټې په ډیرخا ص هنری مهارت جوړی شوی پایې درلودی . دتخت پرسر داسی پرده ځړیدله چی طلا کاری شوی او خوراقیمتي غمیان پری نصب شوی وه . د سپینو زرو په نری تـارونو داسی ښـکلي نقش اونګار ور باندی کار شوی وو چی دانګورو ښکلي وږي او دتاک پاڼی یی ترسیمولي . د ځانګړو ګلانو ګلپاڼی د زرغونو زمردو څخه جوړی وی . دګلانو غوټی یی په چونیا رنګه یاقوتو اوپه منځنی برخه کی یی د اسمانی رنګه سپیرو غمیان کاریدلي وه . دتخت پربازوګانو دوه ډیر ښکلي طاوسان ولاړ وه چی لکی یی د سرو او سپینو زرو په تارونو اوبدلي شوی او په راز راز قیمتي ډبرو داسی ښکلي وی وه چی کټ مټ یی د طبعی اصلي طاوس درنګونو سره بشپړ ورته والی درلود . دطاوسانو سترګی دغټو الماسو غمیانو ( بریلانټو ) څخه جوړی شوی وی . د دواړوطاوسانو تر منځ دتخت په لوړه برخه کی پرتخت دناست شاه دسر نه لږ پورته دکوه نور الماس ځلیدې .



کوه نور دمختلفو زاویو ځخه ( د تاویرني له نظره )

دا تخت په ۱۷٤۷ کال کله چی په هند کی مغولی امپراتوری دایرانی شاه نادرافشار لخوا ړانګه شوه , دهند دنورو جواهراتو او شتمنیو سره یو ځای دده پواسطه دغنیمت پنامه ایران ته راوړل شو . دنادرشاه تر وژلو وروسته په ایران کی یو لړ ګډوډی منځته راغله او دنورو شتمنیو شان دا دنړی هنری شهکار هم په چور وچپاول کی تخریب او برباد شو . دی اکار په افغانستان کی دتنظیمی انارشیو دمهال سره ورته والی درلود چی دهیواد ټول مادی او معنوی ارزښتونه لوټ او دخاوو سره خاوری شول . د ځینو ماهرانو په نظر دطاوس تخت ارزښت تر یوه میلیرد ډالرو زیات اټکل شوی دی .

شاه جهان څلور زامن درلوده چی مشر یی اورنګ زیب وو . نوموړی شپه او ورځ پدی فکر کی وو چی څنګه وکولای شی دپلار تاج او تخت ترلاسه کړی . دی دافسانو له مخی پدی باور چی دکوه نور الماس څښتن کولای شی پر ټولې نړی باندی واکمني پلاس راوړی . ځکه یی نو تصمیم ونیو چی له هرڅه نه

وړاندی باید غمی خپل کړی . ده پدی موخه په یوه خونړۍ کودتا لاس پوری کړ , خپل ټول وړونه یی ووژل او سپین ږیری پلار یی دتخت په سالون کی محاصره او حبس کړ . اورنګ زیب لدی ویری نه چی خلګ بلواګانی ونکړی , دپلار دوژلو او دپاچاپه توګه دځان داعلانولو جرئت یی ونکړ . پدی توګه د حشمت او دبدبی خاوند شاه جهان پوره ۷ کاله دخپلو ټولو شتمنیو سره یو ځای د طاوس تخت په سالون کی بندی پاته شو. کله چی اورنګ زیب خپل ځان د قدرت پر ګدۍ ټینګ ولید نویی له پلاره وغوښتل چی کوه نور او دقیتی جواهراتو ټوله شتمنی و ده ته و سپاری او دده واکمنۍ ته غاړه کښیږدی . خو وړاندی له دی کارنه په ۱٦٦٦ زیږد کال شاه جهان دخپلو ټولو شتمنیو , دښکلې او نامتو طاوس تخت تر څنګ په همهغه سالون کی دخپلې یوی لور په غیږ کی ساه ورکړه او ومړ .

چی د درست جهان پاچا یی په هوا ځی
عا قبت به له د نیا نه بینوا ځی
که حشمت دی دسکندرترحشم زیات وی
خالې لاس به ځنی بیا درومې یواځی .

اورنګ زیب خو د کوه نور پخاطر دهیڅ ډول خونړو کړنو څخه مخ وانه ړاوه او او په پای کی یی هغه پلاس راوړ . کوه نور لکه نور شاهان دی ئی هم دنړۍ واکمن نکړ او د خپلو اسلافو پشان یی په ورته سرنوشت چاړی پرمخ بیولې ولې له هغوی سره یی توپیر دا وو چی دده دظلم مشالونه هری خواته خپاره وه . په همدی توګه له ده نه وروسته یی کوه نور اخلافو ته ورسید چی اخیرنۍ څښتن له دی کورنۍ نه محمد شاه وو .

<u>د کوه نور ایرانی پړاو :</u>

په ۱۷۳۹ کال کله چی په شمال لودیز هند کی دمحمدشاه دسلطنت واکمنې وه , دنادرافشار په مشرې ایرانی لښکری هند ته ننوتلې , د جنګونو او یو ډول جوړ جاړیو په پای کی یی دچارو واګی پلاس کی واخیستې او د محمد شاه هم تر یوی ټاکلې کچی درناوې وشو . پدی توګه د طاوس تخت او همدارنګه دمغولې کورنې نوری ټولې شتمنۍ نادر افشار ترلاسه کړی چی په هغوی کی تر ټولو مهم توکی دکوه نور غمی پرخپل ځای باندی نه وو پروت او ونه موندل شو . نادر افشار په زرګونو خلګ دهغه ولټولو ته وګمارل او موندونکې ته یی دسترو جایزو وعدی هم ورکړی . په پای کی دمحمد شاه له حرمسرای نه یوی ښځی دومره خبر ورکړ چی غمی پخپله محمد شاه په خپلې لونګۍ کی پټ کړیدی . نادر افشار د یوه ستر محفل سره یو لوی دعوت جوړ کړ او محمد شاه یی ورته په درنښت راوباله . کله چی ټول مست او نیشه سول , نادر و محمد شاه ته وړاندیز وکړ چی راشه زه او ته به یو بل ته په دوستۍ کی د وفادارې ښودلو پخاطر خپلې لونګی دټولو په مخ کی یو دبل پرسر کښیږدو . داکارهغه وخت یو پیاوړۍ او منل شوی دود وو چی له مخی یی محمد شاه ددی دستورنه تیریدلای نشو او له بلې خوا دا وړاندیز ورته دیوه فاتح له خوا شوی وو ځکه نو ده ته دمنلونه پرته بله لاره پاته نه وه اوخپله لونګۍ یی په زخمی زړه د نادر افشار پر سر کښیښوده . له دی نه وروسته نادر د دعوت تر پایه په محفل کی پاته نشو او په بیړه یی ځان خپل استوګنځی ته ورساوه . هلته یی لونګۍ پرانستل او د کوه نور شغلو یی پرسترګو تیاره راوستل او د ډیرې خوښۍ نه یی نابېره یوه لویه چیغه له خولې نه ووته : کووووووه نور ! له همدغه ګړې نه وروسته غمۍ د کوه نور ( د وړانګو غر ) پنامه یاد شو چی تر دا اوسه پوری یی همدغه رسمې نوم پاته دی .

تـــــاج محـــــــل کــــــی ورتـــــــه چـــــا پنــــــاه ورنکــــــړه
کــــــــــوه نـــــــــــــور لـــــــــه هندوســـــــــــتانه بیزاریــــــــــــږی
( دوړانګوجنــــــــــــــــــــــــازی - نـــــــــــــــــــــــوزادی )

هغه وو چی د نادر افشار تر برۍ وروسته کوه نور دده سره یو ځای ایران ته راغې . د نادر افشار د حرمسرای نه دده یوی میرمنې د کوه نور الماسی غمې ته داسی یو قیمت ټاکلې وو : که چیری یو ډیر قوی سړې څلور دانی ډبری راواخلې او یوه یوه یی په خپل ټول توان سره د شمال , جنوب , لودیز او ختیز خواته

او پنځمه یی لوړی خواته په هوا وغورځوی , بیا نو ددغو پنځو واړو غورځول شوو ډبرو ترمنځ فضا په سرو زرو او نورو قیمتي کاڼو باندی ډکه شی - دابه ټول یوازی ددغه غمي په اندازه قیمت ولری . نادرشاه هم ددی غمي دپخوانیو ټولو ښتنانو پشان د بلواګانو , جفاګانو , مسموم کیدو او راز راز نورو خیانتونو څخه بیغمه پاته نشو . له همدی امله یی کرار کرا رپر ټولو لیری او نژدی ملګرو باندی باور له لاسه ورکړ او د لیونتوب ترپولې ورسیدی . یوازنی څوک چی دده پرضد دخیانتکارانو او توطیه ګرانو سره همږغی نشو , هغه ابدالي احمدخان وو چی دکندهار نه دافغانی ټولګیو په مشرۍ ورسره یو ځای دهندوستان وفتح کولو ته تللی وو او له هغه وروسته هم دخپلې ژمني سره سم په ایران کی ورسره پاته وو . دنادرشاه خپل ټول وطنی قوتونه په یوه یا بل شکل دفرصت په انتظار دده دمخالفانو سره په معاملو کی راشکیل وه , څو په پای کی دصلاح بیم پنامه دکردانود

د محمدخان قاجار،صالح خان ابیوردی،محمدقلیخان خان کشیک چی باشی ،موسی خان افشار اونور لخوا په ۱۷٤۷ کال ووژل شو، خوافغانی قوماندان (ابدالی احمدخان) دنادر کورنی له بی عزتی سخه ئی وژغورل او دنادر حرم(ماندینه) د دی نیکی په مقابل کی د کوه نورغمی واحمدخان ته وردالی کره.

او ورســـــــــره ســــــــم کـــــــــوه نـــــــــور لـــــــــه ایرانـــــــــه هـــــــــم ووت . دوهمی برخی پای .

دریمه برخه چی دکوه نور افغانی پړاو او وروستی سرنوشت دی , مه هیروئ .